محمد امین بسمل

۱۰/۱۱/۲۷


## خبرتیـــــــــــــــــــــا

د ډیورنډ جرګه ټولو درنو هیواد والو ته خبر ورکوي چې راتلونکې یکشنبه دنومبر په ۲۸ نیټه د اروپا په وخت د شپې په ۱۰ لسو بجو په آریانا افغـــانســـتان تلویزیون کې د ډیورنډ د نارواکرښې په اړوند دریم تلویزیوني پروګرام لیدلای شئ همداراز د ډیورنډجرګه په پلان کې لري چې دډسمبر په ۱۸ نیټه دامریکا په واشنګټن ښار کې په همدې اړوند یوسولیز لاریون چې د ترانسپورټي وسیلومرسته به هم وي ورسره تر سره کړي د ډیورنډ جرګې غړي ستاسو همکاري او مثبتو نظریاتو ته سترګې په لار دي.

یادونــــــــــــــــــــــــــــه:

ــ د پورتنی خبرتیا په اړوند د ډیورنډ جرګې غړي ښاغلي انجنیر متین له ما څخه هیله کړې وه چې داخبرتیا په خپلو ویبلاګونو کې خپره کړم.

ــ موږ بایرن مپشتوافغانانولا درئ کاله دمخه دلاریونونو اواحتجاج لیکونو په طرز کې دډیورنډ د ناروا کرښې غندنه کړې او هیڅ وخت به دلوی او ګران افغانستان **یوملي متر خاوره هم بل چا ته ور پرې نه ږدو** داچې اوس د ډیورنډ جرګې په نوم یو نوی خوځښت پیل شوی موږ یې په ښه مرغد ګڼو خو هیله من یو چې تر کاسه لاندې نیم کاسه نه وي ځکه چې په تېر تلویزیوني پروګرام کې د خلیلزاد، ظاهر طنین او ځینو ملېشو تصویرونو موږ ته اندېښنه پیدا کړې ده بل دا چې په اوس وخت کې د دې ملي او مهمې مسلې راپورته کول خورا ستونځمن کار ځکه دی چې موږ یوملي حکومت نه لرو زموږ نننی دولتی چارواکي په پردیو هېوادونو پورې تړلي کسان دي له دوی څخه د ملي ګټو او ملي هویت د ساتنې توقع بې ځایه ده.

یوځه چې دډیورنډ جرګې له غړوسره یې منلی شوهغه دا ده چې د ډیورنډ کرښه یوه رسمي پوله نه ده او نه به اوبه ځوک په ډانګ بېلې کړای شي ماناهر وخت چې موږ په خپل کابل تسلط وموند او په ملي روحیه سره مو هېواد وال تیار او نړیوالو ته مو دشرایطو اینودلو وس وموند بیا نو د ډیورنډ دکرښې تور ښامار له واره وژلی شو.

موږ د ډیورنډ جرګې له غړو څخه هیله کووچې په رښتیني او صادقانه ډول ، زغم او هوښیاري سره خپله مبارزه په مخ بوزي ترڅو له نورو بدمرغیو سره مخ نه شو.

بایدزیاته کړم چې له نورو بدمرغیو څخه زموږ هدف دا دی چې په افغانستان کې مهاجم قوتونه دخپلو اغراضو پر بنا دافغانستان دتجزیې هڅې کوي له همدې کبله به بهتره داوي چې موږ لمړی اوسنی افغانستان له تجزیې څخه وژغورو بیا به د ډیورنډ د ناروا کرښې غم خورو.

ومن الله توفیق

محمد امین بسمل دافغانستان دژغورنې جرگې په استازیتوب